# د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ
# ځانګړې شان

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

**27-June-2025**

## د جُمعَةُ المبارک

(For Islamic Brothers)



د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبهِ اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

په 27 جون، کال 2025ء (متوقع مُحَرّم الحَرام، کال 1446ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بیان

په نوم د

# د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ځانګړے شان

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- بیتُ المُقَدَّس څنګه فتح شو---؟
- فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اِسلام مضبوطه قلعه ده
- اے د محشر والؤ! دا عُمر دے---!!
- د یو انګریز مُفَکِّر عبرتناک جواب

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: بے شکه دُعا د زمکې او اسمان ترمينځه ولاړه اوسي، د هغې نه هيڅ څيز هم بره طرف ته نهٔ ځي، تر څو پورې چې تاسو پهٔ خپل نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې درود اونه لولئ۔ (1)

دُعا کے ساتھ نہ ہووے اگر درود شریف | نہ ہووے حشر تلک بھی بر آورِ حاجات
قبولیت ہے دُعا کو درود کے باعث | یہ ہے درود کی ثابت کرامت و برکات (2)

**وضاحت:** يعنې د دُعا سره که درود اونه لوستلے شي نو دُعا تر قيامته پورې هُم نهٔ قبليږي، دُعا هم د درودِ پاک پهٔ برکت قبليږي، د درودِ پاک دا عزت او برکت د روايتونو نه ثابت دے۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

1...ترمذی، ابواب:الوتر، صفحه:145، حديث:486۔
2...کافِی کی نعت، صفحه:41۔

مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ وَ الَّذِیْنَ مَعَهٗۤ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَیْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا یَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَ رِضْوَانًا٘ سِیْمَاهُمْ فِیْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ؕ ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِی التَّوْرٰىةِ ۛۖۚ وَ مَثَلُهُمْ فِی الْاِنْجِیْلِ ۛ۫ۚ

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږه د 26 سيپارې، د سورۀ فتح، آيت: 29 د څۀ حصې د اوريدو سعادت حاصل کړو، پۀ دې آيت مبارک کښې الله پاک د خپل محبوبِ کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جانثارو صحابۀ کرامو عليهمُ الرّضوَان پيژندګلو کړې ده، فرمائي:

مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ وَ الَّذِیْنَ مَعَهٗۤ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَیْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا یَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَ رِضْوَانًا٘ سِیْمَاهُمْ فِیْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِ ؕ (پاره:26، سورۀ فتح:29)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: مُحَمَّد د الله رسول دے او د هغوئي ملګري پۀ کافرانو باندې سخت، خپل مينځ کښې نرمو زړونو والا دي- تۀ به هغوئي پۀ رکوع کولو سجدو کولو وينې، د الله فضل او رضا غواړي د هغوئي علامت د هغوئي پۀ مخونو کښې د سجدو د نخښو نه دے-

دا د صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان 5 اعلیٰ اوصاف بيان شول: صحابۀ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوان هغه د اوچتې مرتبې خلق دي چې **(1):** د کافرانو د پاره ډير سخت دي **(2):** پۀ خپل مينځ کښې ډير د نرم زړۀ والا دي **(3):** پۀ کثرت سره نـمونځونه کوي، کله سجدې کوي، کله رکوع کوي **(4):** او عبادت هم داسې ښکلے کوي چې پۀ هغې کښې لږه شان رِيا هم نۀ کوي بلکې د هغوئي مقصد صرف او صرف د الله پاک فضل او د هغۀ رضا وي **(5):** نور دا چې صحابۀ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوان هغه هستياني دي چې د هغوئي پۀ مخونو باندې د سجدو

نخښې او د عبادت نُور ښکاري-

سُبْحٰنَ اللہ! اللّٰه پاک د صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د دې 5 اعلیٰ اوصافو د ذِکر کولو نه پس فرمائي:

| | |
|---|---|
| ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ ۛ وَ مَثَلُهُمْ فِي الْاِنْجِيْلِ ۛ (پاره:26، سورۀ فتح:29) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: دا د هغوئي صفت په تورات کښې (ذِکر شوے) دے او د هغوئي دا صفت په اِنجِيل کښې (ذِکر شوے) دے- |

اللّٰه! اللّٰه! د صحابه کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان څومره ځانګړے شان دے، وګورئ چې مونږه کله دُنيا ته راغلي وو، هُغه وخت چا هم مونږ نه پيژندلو، مونږ به چا په خوب کښې هم نۀ وو ليدلي، بيا چې مونږه کله دُنيا ته راغلو، نو بيا هم مونږه کور والؤ، خپلوانو او د محلې والا يو څو کسانو پيژندلو، بيا چې کله مونږه لوئي شو، بيا هم زمونږه پيژندونکي خلق ډير کم دي، د چا به په سوونو کښې وي، د چا به په زرګونو يا لکونو کښې وي خو قربان شم! د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوږو خوږو صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ځانګړے شان دے چې دا هستياني لا دُنيا ته هم نۀ وو راغلي، د هغې نۀ په صدو مخکښې د هغوئي ذِکر په دُنيا کښې موجود وو، په مخکښينو اسماني کتابونو مثلاً تورات شريف کښې، انجيلِ مُقَدَّس کښې د صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان اوصاف او کمالونه ليکلي شوي وو، خلقو هغوئي پيژندل هم نۀ،خو د هغوئي ذِکرِ خير به يې کولو او دا ذِکر هم څۀ عام ذِکر نۀ وو بلکې د اللّٰه پاک په کلام کښې به د صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ذِکرِ خير باقاعده تِلاوت کيدلو او خلقو به د ثواب په اميد د دوئي ذِکرِ خير کولو-

ياد ساتئ چې په مخکښينو اسماني کتابونو کښې خلقو د خپلې خوښې مطابق تحريف (يعني بدلون) کړے وو، ځکه د دغه اسماني کتابونو لوستل اوس صحيح نۀ دي- البته د خلقو د بدلون

کولو باوجود هم پۀ دغه کتابونو کښې د صحابۀ کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوان ذِکر موجود وو-

هر صحابِي نبي! جَنَّتي جَنَّتي
تولې صحابِياتې هُم! جَنَّتي جَنَّتي
څلور یاران د نبي! جَنَّتي جَنَّتي
حضرتِ صدیق هُم جَنَّتي جَنَّتي
او عُمر فاروق هُم جَنَّتي جَنَّتي
عُثمانِ غني جَنَّتي جَنَّتي
فاطِمه او علي جَنَّتي جَنَّتي
دي حسن حُسین هُم جَنَّتي جَنَّتي
والدین د نبي جَنَّتي جَنَّتي
هره زَوجۀِ نبي جَنَّتي جَنَّتي

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تعارف

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ❁ پۀ ورومبي مُحَرّم الـحَرام **د فاروقِ اعظم** رَضِیَ اللہُ عَنْہُ **ورځ** نمانځلے شي ❁ حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډیر خوږ صحابي دے ❁ هغوئي د مسلمانانو دویم خلیفه دے ❁ پۀ دُنیا کښې د دواړو جهانو د سلطان، رحمتِ عالمیان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خاص وزیر وو ❁ الله پاک هغوئي ته ډیر اوچت شانعطا کړے دے- یقیناً چې د نورو صحابۀ کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوان پۀ شان پۀ تورات او انجیل کښې د هغوئي هم ذِکرِ خیر موجود وو، پۀ دغه مخکښینو اسماني کتابونو کښې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ کوم شان بیان شوے، راځئ چې پۀ دې باره کښې یو څو روایتونه واورو:

## پۀ دِیني احکامو نافذولو کښې سختئ کولو والا حاکِم

یو ځل د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د یو پادري نه پوښتنه وکړه: هَلْ تَجِدُوْنَا فِیْ شَیْءٍ مِّنْ کُتُبِکُمْ یعنې آیا ستاسو پۀ کتابونو کښې زمونږ پۀ باره کښې

هم څۀ ليکلے شوي دي؟ پادري پۀ آؤ کښې جواب ورکړو، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ترينه پوښتنه وکړه: کَیۡفَ تَجِدُنِیۡ ما پۀ خپلو کتابونو کښې څنګه بياموم‌ئ؟ پادري ووئيل: قَرۡنٌ مِّنۡ حَدِیۡدٍ يعني زمونږ پۀ کتابونو کښې ليکلي شوي دي چې تاسو د اوسپنې ښکر يئ- هغوئي وفرمائيل: د اوسپنې ښکر! د دې څۀ مطلب دے؟ پادري ووئيل: اَمِیۡرٌ شَدِیۡدٌ يعني (پۀ دِيني احکامو نافذولو کښې) سختي کولو والا حاکِم- پۀ دې باندې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د الله پاک شُکر ادا کړو او اوئې فرمائيل: الله پاک د ټولو نه لوئې دے، ټول تعريفونه د هغۀ د پاره دي- (1)

## د نجران والؤ ګواهي

يو ځل اَمِيرُ المُؤمِنِين حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ اَس باندې سور چرته روان وو، ناڅاپه د هغوئي د پنډۍ مبارکې نه کپړه لرې شوه، اتفاقي طور هٰغه وخت پۀ نجران والؤ (کوم چې کافران وو، پۀ هغوئي) کښې د چا نظر د هغوئي پۀ پنډۍ مبارکه باندې پريوتو، هلته تور تاکے وو، پۀ دې باندې د نجران والؤ ووئيل: هٰذَا الَّذِیۡ نَجِدُ فِیۡ کِتَابِنَا یُخۡرِجُنَا مِنۡ اَرۡضِنَا يعني دا هم هٰغه ګس دے د چا پۀ باره کښې چې زمونږه پۀ کتابونو کښې ليکلے شوي دي چې دا به مونږه زمونږ د زمکو نه اوباسي- (2)

اَللّٰہُ اَکۡبَر! اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! تاسو وکتل چې پۀ مخکښينو اسماني کتابونو کښې د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ذِکرِ خير خومره پۀ تفصيل سره موجود وو، کافرانو صرف د هغوئي پۀ پنډۍ مبارکه باندې تور تاکے وليدو او د هغې نه يـې هغوئي وپيژندل-

---

1...مناقب امير المؤمنين عمر بن الخطاب لابن الجوزى، الباب الرابع، فى صفة فى التوراة، صفحه:15-

2...مجمع الزوائد، باب مناقب عمر بن الخطاب، باب فى صفة، جلد:9، صفحه:32، حديث:14400-

# بَیتُ المُقَدَّس څنګه فتح شو---؟

بَیتُ المُقَدَّس کوم چې ډېر مبارک ښار دے، دا پۀ ورومبي ځل د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ خلافت کښې فتح شو، د دې فتح کولو واقعه ډېره عجیبه ده، داسې وشو چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ حضرت ابو عُبَیدَه بن جَرَّاح رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د لښکر سپه سالار مقرر کړو او یو لښکر یې ورکړو او بَیتُ المُقَدَّس ته یې ولیږلو، حضرت ابو عبیده بن جَرَّاح رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د لښکر سره بَیتُ المُقَدَّس ته ورسیدو، د کافرانو د قلعه نه یې کَیره چاپیر کړه، تقریباً تر څلورو میاشتو پورې دا جنګ روان وو خو څۀ نتیجه یې راونۀ وتله-

پۀ بَیتُ المُقَدَّس کښې د کافرانو یو ډېر لوئې راهِب وو، یوه ورځ هٰغه راهِب د قلعه دیوال ته وختو او د حضرت ابو عُبَیدَه بِن جَرَّاح رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ یې **مخاطب** کړو او ورته یې ووئیل چې مونږ به پۀ هر حال کښې ستاسو سره جنګ کوو، زمونږه ښار صرف یو کَس فتح کولے شي، د هغۀ صفتونه زمونږ پۀ کتابونو کښې لیکلے شوي دي، تۀ هغۀ نۀ یې-

حضرت ابو عُبَیدَه بِن جَرَّاح رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفرمائیل: هغۀ به څوک وي؟ ستاسو پۀ کتابونو کښې د هغۀ څه صفتونه لیکلے شوي دي؟ راهِب ووئیل: هغۀ به د **مُحَمَّد** (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) اُمتي وي، د هغۀ نوم به **عمر بن خطّاب** وي، خلق به هغۀ ته **فاروق** وائي، د دِین پۀ معامله کښې به ډېر سخت وي، د الله پاک پۀ معامله کښې به د خلقو د ملامتیا پروا نۀ کوي-

حضرت ابو عبیده بن جَرَّاح رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې د راهِب دا خبره واوریدله نو مُسکے شو او د خوشحالۍ نه یې وفرمائیل: فَتَحْنَا الْبَلَدَ وَرَبِّ الْکَعْبَةِ یعنې د کعبې پۀ رَبّ مې دې قَسم وي! مونږه دا ښار فتح کړو- بیا حضرت ابو عُبَیدَه بِن جَرَّاح رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته خط ولیکلو او د بَیتُ المُقَدَّس د راتللو عرض یې وکړو، حضرت عمر

فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تشریف راوړو، هُغه نصراني راهِب چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ولیدو نو اوئې پیژندلو او هغهٔ خپل قوم ته غږ وکړو: اے خلقو! دا هُغه دے، د چا ذِکر چې زمونږ پهٔ کتابونو کښې دے، هم دا به زمونږه ښار فتح کوي۔

بیا هُغه کافرانو د جنګ کولو نه بغیر بَیتُ المُقَدَّس حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته حواله کړو۔ (1)

فارقِ حق و باطل امام الہدیٰ | تیغِ مَسلُولِ شدت پہ لاکھوں سلام

**وضاحت:** د حق د باطِل نه جُدا کوونکے او هدایت ورکوونکے اِمامِ بَرحق حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د هُغه تورې پهٔ شان دے کومه چې د اِسلام پهٔ حمایت کښې په سختئ سره اوچتولے شي پهٔهغوي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دې پهٔ لکونو سلامونه وي۔

## فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ مسلمانانو باندې رحیم او کریم دے

حضرت کعبُ الاَحبَار رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیہ د اوچتې مرتبې تابعي دے۔ چې کله بَیتُ المُقَدَّس فتح شو، هُغه وخت د حضرت کعب الاَحبَار رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیہ د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سره وړومبے ملاقات وشو، هُغه وخت حضرت کعب رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیہ کلمه ووئیله او اِسلام یې قبول کړو۔ (2)

پهٔ دې موقع باندې حضرت کعب الاَحبَار رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیہ ووئیل چې د الله پاک پهٔ کتاب کښې لیکلے شوي دي چې داسې ښار چرته چې به بني اسرائیل اوسیږي، هغه به د یو داسې کَس پهٔ لاس باندې فتح کیږي ❀ خوک چې به نیک وي ❀ پهٔ مسلمانانو باندې به رحم کوونکے او د کافرانو د پاره به دردناک عذاب وي ❀ د هغهٔ ظاهر او باطن به یو شان وي، د هغهٔ پهٔ قول او فعل کښې به تضاد نهٔ وي ❀ خپل او پردي ټول به د هغهٔ د پاره یو برابر وي ❀ د هغهٔ ملګري

---

1...فتوح الشام، ذکر فتح مدینة بیت المقدس، جلد:1، صفحه:232225223 ملتقطاً۔

2...فتوح الشام، ذکر مدینة بیت المقدس، جلد:1، صفحه:233 خلاصةً۔

په د شپې عبات کوونکي ❀ د ورځې روژه نیوونکي او ❀ د خلقو غمخوران وي۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! دا ټول صفتونه د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ بیانیدل ❀ هغوئي نیک هم دے ❀ په مسلمانانو باندې رحم کوونکے هم دے ❀ عدل او انصاف قائموونکے هم دے او ❀ هُم هغوئي هُغه هستي ده چا چې د کافرانو ښارونه فتح کړل ❀ تر دې پورې چې د قیصر او کِسریٰ په محلونو باندې یې هم د اِسلام جنډه ولګوله۔

| | |
|---|---|
| اَشِدَّآءُ عَلَی الْکُفَّار کے مصداقِ اَعلیٰ ہیں | مُذِلِّ کُفر وطُغیاں حضرتِ فاروق اعظم ہیں |
| وہ عالمِ دَبدبہ کا کانپتے ہیں قیصر وکسریٰ | ہے جن سے دین کی شاں حضرتِ فاروق اعظم ہیں (2) |

وضاحت: په قرآنِ پاک کښې د صحابهٔ کرامو یو صِفت دا بیان شو چې اَشِدَّآءُ عَلَی الْکُفَّار دوئي په کافرانو باندې ډېر سخت دي، دا آیت مبارک د ټولو نه په وړومبی درجه په حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ باندې صادق راځي، هغوئي کُفر او سرکشي ذلیله کوونکے دے، د هغوئي د رعب او دبدبې دا حالت دے چې د هغوئي د نوم نه د روم او د ایران باشاهان ویریږي، د چا په وجه چې د اِسلام دومره شان او شوکت نصیب شو د هغوئي نوم حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دے۔

## فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د دوزخ نه خنډ(منع کوونکے) دے

حضرت اُمِّ کلثوم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا د سرورِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بنګلې نمسی یعني د حضرت بي بي فاطِمةُ الزَهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا شهزادګۍ ده، هغهٔ د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په نکاح کښې وه، یوه ورځ حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ولیدل

---

1...الریاض النضرة، الباب الثانی، الفصل التاسع، ذکر نبذة من فضائله، صفحه:274۔
2...دیوانِ سالک، صفحه:7573۔

چې حضرت اُمِّ کلثوم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھا پۀ سلګو سلګو ژاړي، هغوئي چې ترينه د ژړا د سبب پوښتنه وکړه نو د هغوئي بي بي محترمې عرض وکړو: اے اَمِيْرَالْمُؤْمِنِيْن! کعبُ الاَحبَار وائي چې تاسو د دوزخ پۀ دروازه باندې يئ۔

حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې دا واوريدل نو پۀ هغوئي باندې ويره غالبه شوه، هغوئي فوراً حضرت کعبُ الاَحبَار رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ راوبللو۔ حضرت کعب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې ځنګه حاضر شو نو عرض يـې وکړو: اے اَمِيْرَالْمُؤْمِنِيْن! پۀ ما باندې تادي مۀ کوئ! پۀ الله پاک مې دې قَسم وي چې د ذُو الـحِج د ختميدو سره به تاسو جنَّت ته تشريف يوسئ۔

حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې دا خبره واوريده نو پۀ حيرانتيا سره يـې وفرمائيل: اَیَّ شَیْءٍ هٰذَا مَرَّةً فِی الْجَنَّةِ وَمَرَّةً فِی النَّارِ؟ يعنې اے کعب! دا څنګه خبره شوه---؟؟ کله وائې چې زۀ د دوزخ پۀ دروازه باندې يم او کله وائې چې زۀ جنَّتي يم؟ حضرت کعب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عرض وکړو: وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ! اِنَّا لَنَجِدُكَ فِیْ كِتَابِ اللّٰهِ عَلٰی بَابٍ مِّنْ اَبْوَابِ جَهَنَّمَ تَمْنَعُ النَّاسَ اَنْ یَّقْعُوْا فِیْهَا، فَاِذَا مِتَّ لَمْ یَزَالُوْا یَقْتَحِمُوْنَ فِیْهَا اِلٰی یَوْمِ الْقِیَامَةِ يعنې اے اَمِيرُ المُؤمِنِين! پۀ هٰغه ذات مې دې قَسم وي د چا پۀ قبضه کښې چې زما ځان دے! مونږ د الله پاک پۀ کتاب کښې لوستلي دي چې تاسو د دوزخ پۀ دروازه باندې ولاړ يئ او خلق دوزخ ته د غورځيدو نه منع کوئ، چې کله تاسو د دُنيا نه تشريف يوسئ نو تر قيامته پورې به خلق دوزخ ته غورځيږي۔ (1)

| | |
|---|---|
| بھٹک سکتا نہیں ہر گز کبھی وہ سیدھے رستے سے | کرم جس بخت ور پر ہو گیا فاروقِ اعظم کا |
| خُدا کی خاص رحمت سے، مُحَمَّد کی عنایت سے | جہنّم میں نہ جائے گا، گدا فاروقِ اعظم (2) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

1...کنز العمال، کتاب الفضائل، جز:12، جلد:6، صفحه:256، حديث:35782۔
2...وسائل بخشش، صفحه:527۔

# پاڅهٔ! اے د دوزخ د تالې ځويه---!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د دې مفهوم يو بَل روايت هم دے، حضرت عبد الله بن سلام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ځوک چې ډير د اوچتې مرتبې صحابئ رسول دے، هغوئ د تورات شريف ډير لوئ عالِم وو، يو ځل هغوئ وليدل چې يو کَس څادر پهٔ ځان راچولے دے او اوده دے، هغوئ هغهٔ د ښپې نه وخوزولو او اوئې وئيل: تهٔ ځوک يـې؟ اوده کَس راپاڅيدو او اوئې وئيل: د اَمِيرُ المُؤمِنِين (يعنې حضرت فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ) ځوي **عبد الله بن عمر** يم- پهٔ دې باندې عبد الله بن سلام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ وفرمائيل: **قُمۡ يَا اِبۡنَ قُفۡلِ جَهَنَّم** يعنې اے د دوزخ د تالې ځويه! پاڅهٔ!

د خپل والِدِ محترم پهٔ باره کښې چې يـې داسې الفاظ واوريدل نو حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما له ډيره غصه ورغله، هغوئ فوراً د خپل والِدِ محترم حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ خدمت کښې حاضر شو او اوئې وئيل: بابا جانه! حضرت عبد الله بن سلام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ تاسو ته د **دوزخ تاله** وائي- حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ هم پهٔ دې اوريدو ډير حيران شو، هغوئ فوراً د حضرت عبد الله بن سلام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ خوا له تشريف يوړلو او پوښتنه يـې وکړه: اے ابنِ سلام! معلومه شوې ده چې تاسو ما ته د دوزخ تاله وايئ؟ حضرت عبد الله بن سلام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ عرض وکړو: آؤ جي! وايم يـې- پوښتنه يـې وکړه: تاسو ته څنګه معلومه شوه چې زهٔ دوزخي يم؟ حضرت عبد الله بن سلام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ عرض وکړو: **مَعَاذَ الله**! ما تاسو ته دوزخي نهٔ دي وئيلي بلکې د **دوزخ تاله** مې وئيلي ده، ما ته زما والِد روايت بيان کړے وو چې د الله پاک نبي حضرت موسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام فرمائيلي دي چې د مُحَمَّد [صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] پهٔ اُمت کښې به يو کَس وي، خلق به هغهٔ ته عمر بن خطّاب وائي، هغهٔ به د ټولو نه بهتر دِين والا وي، د هغهٔ يقين به ډير پوخ وي، تر څو پورې چې هغه

پۀ دُنيا کښې وي د هغوئي دِين به غالِب وي، خلقو به د الله پاک رسئ مضبوطه نيولې وي، دوزخ ته به تالې لګيدلې وي، چې کله عمر د دُنيا نه رخصت شي، نو يقين به کمزورے شي، د نيکانو خلقو ژوند به کم شي، خلق به پۀ فرقو کښې تقسيم شي، بيا به د دوزخ دروازې برسيره کړے شي او خلق به هغې ته غورځيږي۔ (1)

## فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اِسلام له عزت ورکړو

سُبْحٰنَ الله! اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! څومره ځانګړے شان دے، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ لا دُنيا ته تشريف هم نۀ وو راوړے، دې نه مخکښې به هم چې د مخکښينو اسماني کتابونو کومو خلقو تلاوت کولو، د اسماني کتابونو عالِمان وو، د مخکښينو نبيانو د ارشاداتو نه خبر وو، هغوئي ته معلومه وه چې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ اُمت کښې به يو ګس وي ❀ د هغوئي نوم به عمر بن خطّاب وي ❀ د هغوئي دِين به بهتر او يقين به يې ډير پوخ وي ❀ تر څو پورې چې هغوئي پۀ دُنيا کښې وي، دِين به غالِب وي، خلق به د دوزخ نه بچ کيږي او چې کله هغوئي د دُنيا نه لاړ شي نو د دوزخ تالې به برسيره کړے شي۔

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دلته لږ د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دُعا اثر ته هم وګورئ! د الله پاک محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُعا کړې وه: اَللّٰهُمَّ اَعِزَّ الْاِسْلَامَ بِعُمَرَبْنِ الْخَطَّاب اے الله پاکه! د عمر بن خطّاب پۀ ذريعه د اِسلام عزت اوچت کړې۔ (2)

دا خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم د دغې دُعا برکت وو چې پۀ کومه ورځ باندې چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اِسلام قبول کړو، هغه وخت مسلمانانو د

1...تاريخ دمشق، جلد:44، صفحه:334۔

2...ابن ماجه، فضل عمر رَضِیَ اللّٰہُ عنه، صفحه:31، حديث:105۔

خوشحالي نه د اَللّٰهُ اَکْبَر نعره ووهله، د کومې اواز چې په مکه مکرمه کښې تر لرې لرې پورې واوريدے شو، په دغه ورځ مسلمانانو په ورومبي ځل په مسجدِ حرام کښې په ښکاره نـمونځ ادا کړو، د هُغې ورځې نه واخله تر د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د ظاهري وصاله پورې د اِسلام عزت د اوچت نه هم اوچت ششش شو، اِسلام تر لرې لرې پورې خور شو، د عدل او انصاف بے مثاله نظام قائم شو او د کافرانو په محلونو هم د اِسلام جنډه ولګيدله۔

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو!** دا دے د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دُعا اثر--!! حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې تر څو پورې په دُنيا کښې وو، د اِسلام عزت ډير زيات شو خو آه! د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د وصال نه پس مختلفو فتنو سر راپورته کول شروع کړل۔

## فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د فِتنو تالا ده

يو ځل د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ او د حضرت ابو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ملاقات وشو، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د حضرت ابو ذَر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سره لاس ميلاؤ کړو او په مينه يـې د هغوئي لاس له زور ورکړو، په دې باندې حضرت ابو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ووئيل: دَعْ يَدِیْ يَا قُفْلَ الْفِتْنَةِ يعنې اے د فتنې تالې! زما لاس پريږده۔

حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې ترينه د دې وضاحت وغوښتو نو حضرت ابو ذَر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عرض وکړو: يوه ورځ د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ستاسو په ليدلو فرمائيلي وو: لَا تُصِيْبُكُمْ فِتْنَةٌ مَّا دَامَ هٰذَا فِيْكُمْ يعنې چې تر څو پورې دا (يعنې حضرت عمر فاروق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ) په ستاسو کښې موجود وي ، تاسو ته به فتنه نۀ رارسي۔ (1)

---

1...تاريخ دمشق، جلد:44، صفحه:334۔

## فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اِسلام مضبوطه قلعه ده

حضرت زید بن وَهب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: یو ځل مونږ د صحابئِ رسول حضرت عبد اللّٰه بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ خدمت کښې حاضر وو، د مسلمانانو د دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ذِکرِ خیر وشو، د هغوئي نوم یې چې واوریدو نو حضرت عبد اللّٰه بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ زار وقطار وژړل، تر دې پورې چې د هغوئي پۀ اوښکو چټائي لـمده شوه- بیا هغوئي وفرمائیل: بے شکه فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اِسلام د پاره مضبوطه قلعه وه، پۀ کومه کښې چې به خلق داخلیدے خو شو خو وتلے به ترینه نۀ شو- آه! څنګه چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفات شو، نو خلق د اِسلام نه په وتلو شو- (1)

## نن اِسلام کمزورے شو

پۀ کومه ورځ باندې چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفات شو، پۀ هٰغه ورځ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رضاعي (یعنې د پئیو ورکولو د رشتې) مور جانې حضرت اُمّ اَیمن رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا وفرمائیل: اَلْیَوْمَ وَهِیَ الْاِسْلَامُ یعنې نن اِسلام کمزورے شو- (2)

| | |
|---|---|
| بہارِ باغِ ایماں حضرتِ فاروقِ اعظم ہیں | چراغِ بزمِ عرفاں حضرتِ فاروقِ اعظم ہیں |
| عمر عامر ہیں دیں کے حق تعالیٰ ان کا ناصر ہے | دِلِ مومن کے تاباں حضرتِ فاروقِ اعظم ہیں (3) |

**وضاحت:** یعنې د اِیمان د باغ سپرلے او د معرفت د محل شمع حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دے، او د اللّٰه پاک پۀ مدد سره د اِسلام عمر زیاتوونکے او د مؤمِن زړۀ ځلوونکے حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دے-

---

1... طبقات الکبریٰ، ذکر استخلاف عمر، جلد:3، صفحه:283-
2... معجم کبیر، جلد:25، صفحه:86، حدیث:221-
3... دیوانِ سالک، صفحه:7573-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## اے د محشر والؤ! دا عمر دے---!!

د حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما نه روايت دے، د قيامت پۀ ورځ چې به کله حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د الله پاک پۀ بارګاه کښې حاضرېږي، هٰغه وخت به اِسلام عرض کوي: يَا رَبِّ هٰذَا عُمَرُ اَعَزَّنِيْ فِيْ دَارِ الدُّنْيَا فَاَعِزَّهُ فِيْ عَرَصَاتِ الْقِيَامَةِ يعنې اے رَبِّ رحمان او رحيمه! **دا عمر دے**، دۀ پۀ دُنيا کښې زما عزت اوچت کړے وو، نن د قيامت پۀ ميدان کښې تۀ دۀ ته عزت عطا کړې۔

د دې سره به حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ته **2** چغې(جُبې) واغوستلے شي، د دغه چغو خوشبوئي به داسې وي چې که پۀ دغه کښې يوه هم پۀ دُنيا کښې پرانستے شي نو ټوله دُنيا به يې پۀ خوشبويۍ باندې معطره شي۔ حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به پۀ نُوراني اوښه باندې کښينولے شي، د هغوئي مخې ته به **70** زره جنډې خوزېږي، هٰغه وخت به پۀ محشر کښې يو اواز کيږي: يَا اَهْلَ الْمَوْقَفِ هٰذَا عُمَرُ فَاعْرِفُوْهُ اے د محشر والؤ! دا عمر دے، دا وپيژنئ---!! (1)

**اے د صحابۀ کرامو او اهلِ بيتِ کرامو** رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم **عاشقانو!** حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ چې تر څو پورې پۀ دُنيا کښې تشريف فرما وو، د اِسلام د سربلندۍ د پاره يې کوشش کولو ❁ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره يې پۀ جنګونو کښې هم شرکت وکړو ❁ سر يې پۀ تَلي کښې کيښودو او د اِسلام د پاره وجنګيدو ❁ د اِسلام د سربلندۍ د پاره هغوئي خپل ځان پۀ مشقت کښې هم واچولو ❁ پۀ دُنيا کښې د عدل نظام قائِم شو، دې د پاره هغوئي وړې هم پاتې شول ❁ تقريباً د

1...الرياض النضرة، الباب الثاني، الفصل التاسع، ذكر نبذة من فضائله، صفحه:274 بتغير قليل۔

نيمې دُنيا د رُعب لرونکي خليفه کيدو باوجود هغوئي پيوند لګيدلي جامې هم واغوستې ❁ قرباني يې ورکړې ❁ تکليفونه يې برداشت کړل ❁ خپل خواهشات يې ختم کړل او د هميشه د پاره يې اِسلام سربلند کړو۔

پهٔ دې کښې زمونږ د پاره سبق دے، آه! مونږه د خپلو خواهشاتو د پوره کولو د پاره، د خپل ارام د پاره، د اِسلام د سربلندئ پروا نهٔ کوو، زمونږه کردار ته چې وګوري نو کافران د اِسلام نه نفرت شروع کړي، آه! د دُنيا محبت، د مال او د دولت حِرص، د خپلې اَنا د پاره، د ذات پات پهٔ نوم بے ځايه جنګ جګړې، قتلونه، دوکې، دروغ، بهتانونه لګول، دوکې ورکول غرض هُغه کومه داسې يوه ګناه ده کومه چې پهٔ مسلمانانو کښې نن پهٔ نظر نهٔ راځي--!! ياد ساتئ چې زمونږه منفي کردار صرف زمونږ د پاره نهٔ دے، د الله پاک د پاک دِين، دِين اِسلام د پاره هم زيان رسوونکے دے، خلق چې مونږ مسلمانانو ته وګوري نو د اِسلام نقشه پهٔ ذهنونو کښې کښينوي۔

## د يو انګريز مُفکر عبرتناک جواب

شيخ الحديث، حضرت علّامه عبد المصطفےٰ اعظمي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: ما ته د يو انګريز مفکر خبره بيا بيا رايادېږي، د هغهٔ نه يو مسلمان پوښتنه کړې وه چې: تهٔ صاحبِ نظر (يعني عقل مند) يې، بيا ولې نهٔ مسلمانيږې؟ پهٔ دې باندې انګريز داسې عبرتناک جواب ورکړو چې د هغې پهٔ اوريدو به د هر غيرت مند مسلمان پهٔ تندي باندې خوله راشي۔ زهٔ چې کله هُغه اِسلام وينم کوم چې پهٔ اِسلامي کتابونو کښې ليکلے شوے دے نو زما پهٔ زړهٔ کښې د اِسلام حقانيت کور جوړ کړي خو چې کله هُغه اِسلام ته وګورم پهٔ کوم باندې چې نن مسلمانان عمل کوي نو زما پهٔ زړهٔ کښې د اِسلام نه سخت نفرت پيدا شي۔ [1]

1...عرفانی تقریریں، بیان: زوال کے اسباب، صفحہ: 101 بتغیر قلیل۔

| | |
|---|---|
| بَن گئے تنکے نشیمن کے قفس کی تیلیاں | بَن گیا کیا؟ ہم چلے تھے کیا بنانے کے لئے |

وضاحت: کور مو جوړ کړے وو، قید خانه ترینه جوړه شوه، مونږه جوړول څۀ؟ او څۀ ترینه جوړ شو؟ مطلب دا چې مونږه د اُلټا لارې مسافر جوړ شو، پکار خو دا وه چې مونږه د نورو د پاره د ژوند تیرولو نمونه جوړ شوي وو، زمونږه پۀ وجه اِسلام ترقي کولے خو اُلټا وشو، خلقو زمونږ پۀ وجه د اِسلام نه نفرت شروع کړو-

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! مونږه د مسلمانانو د دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ذِکرِ خیر واوریدو، هغوئي ټول ژوند د اِسلام د سربلندئ د پاره تیر کړو، راځئ چې مونږه هم د زړۀ نه د دُنیا محبت اوباسو ❀ د مال او دولت د حِرص نه ځان خلاص کړو ❀ خپلې جنګ جګړې ختمې کړو او ټول یو موټے شو ❀ پۀ اِتفاق او اِتحاد سره ټول عاشقانِ رسول پۀ شریکه د دِین خدمت وکړو ❀ مونږه خپل کردار د دِین مطابق جوړ کړو ❀ خپل کارونه د دِین او د شریعت مطابق کړو ❀ خپل چال چلن بدل کړو ❀ خپل ژوند د اِسلامي اُصولو مطابق جوړ کړو ❀ راځئ چې د سُنّتو نمونه جوړه شو ❀ پۀ سر باندې مو پټکے وي ❀ پۀ مخ باندې مو ګیره وي ❀ پۀ ژبه باندې مو رښتیا وي ❀ پۀ کردار کښې مو امانت داري ❀ همدردي ❀ رحم دلي ❀ عدل او انصاف وي ❀ پۀ زړۀ کښې مو د الله او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم محبت ❀ للهیت او اِخلاص وي، داسې مونږه پاک ژوند تیر کړو، پخپله هم نیک پرهیزګاره جوړ شو او د نورو د ترغیب ذریعه هم جوړه شوه-

| | |
|---|---|
| عمل کا ہو جذبہ عطا یاالٰہی! | گناہوں سے مجھ کو بچا یاالٰہی! |
| لباس اپنا سنّت سے آراستہ ہو | عمامہ ہو سر پر سجا یاالٰہی! |
| سبھی رُخ پہ اک مُشت داڑھی سجائیں | بنیں عاشقِ مصطفٰے یاالٰہی! |

ہو اَخلاق اچّھا ہو کردار سُتھرا | مجھے متّقی تُو بنا یاالٰہی! (1)

# الــمدينه آن لائن لائبريري

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ! د دعوتِ اسلامي *I.T* ډيپارټمنټ ورځ په ورځ مونږ ته د عِلمِ دين زده کولو اسانې ذريعو راکولو کښې مَصرُوف دے- د سوؤنو کتابونو او رِسالو الــمدينه آن لائن لائبريري کومه چې مخکښې صرف په ډيسک ټاپ ورژن کښې وه، اوس ويب ورژن کښې لائيو (نيغ په نيغه) کړے شوي ده- په الــمدينه آن لائن لائبريری کښې د مکـتبة الــمدينه مختلف موضوعات (مثلاً قرآن او سُنّت، عقائدِ اسلام، فقه او فتاوىٰ، اسلامي تعليمات، اخلاق او آداب، سيرتِ رسولِ عربي، سيرتِ اُمهاتُ المُؤمنين، سِيرتِ صحابه و صحابيات، سيرتِ اوليائے کرام، سيرتِ اميرِ اهلسُنت، ملفوظاتِ اميرِ اهلسُنت او فيضانِ مدني مذاکره، اوراد او وَظائف او نعتيه کلامونه وغيره) باندې مشتمل کتابونه او رِسالې موجودې دي- د الــمدينه آن لائن لائبريرینه د فائدې ترلاسه کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ويب سائټ

***www.dawateislami.net/bookslibrary***

ته لاړ شئ او نورو له هم ترغيب ورکړئ-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

**راځئ چې د بيان په اخره کښې يوه شرعي مسئله زده کړو:**

## صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ په ګوته کول)

**مسئله:** نابالغه هلک ته د سرو زرو ګوتمه اچول حرام دي-

1...وسائل بخشش، 104102۔

**وضاحت:** دا غلطي هم پهٔ مسلمانانو کښې عامه ده چې د هلک پهٔ پیدائش هلک ته د سرو زرو ګوتمه اچوي- یاد ساتئ چې نابالغه هلک ته د سرو سرو ګوتمه اچول هم داسې ناجائزه، ګناه او حرام کار دے لکه څنګه چې یو بالغ ته د سرو زرو د ګوتمې اچول حرام دي- د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ بالغ او نابالغه کښې د فرق کولو نه بغیر د مذکر پهٔ حق کښې سرهٔ زر حرام کړي دي- ځکه نابالغه هلک ته هم د سرو زرو ګوتمه اچول حرام دي البته نابالغه ته د ګوتمې اچولو پهٔ شکل کښې به دا ګناه د هٰغه ماشوم نهٔ بلکې هغهٔ ته د اچوونکي وي ځکه چې نابالغه مُکلَّف نهٔ دے یعنې پهٔ هغهٔ باندې د شریعت احکام لازمي نهٔ دي- (1)

صدر الشریعه مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: هلکانو ته د سرو زرو کالي اچول حرام دي او چا چې ورته واچول نو هغهٔ به ګنهګار وي- (2)

الله پاک دې مونږ ته د صحیح اِسلامي احکامو د زده کولو او پهٔ دې باندې د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

### یَا بَصِیۡرُ

څوک چې روزانه د مازدیګر پهٔ وخت (یعنې د مازدیګر د وخت د شروع کیدو نه تر د نمر پریوتو پورې پهٔ څهٔ وخت کښې هم) 7 کرته یَا بَصِیۡرُ لولي نو د ناځاپي مرګ نه به محفوظ

1… دارُ الافتاء اہلسنت، غیر مطبوع، ریفرنس نمبر:7892۔

2… بہارِ شریعت، جلد:3، صفحہ:428، حصہ:16۔

وي- [1] اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم!

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]… مدنی پنج سورہ، صفحہ:250۔